شفق

SHAFAQ



فرمان خدا (ج)

بسم الله الرحمن الرحیم

إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ
أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ
ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾
بَلَىٰٓ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم
مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم
بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ
مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾

ترجمه :-

چون میگفتی به مسلمانان آیا کفایت نمی کند شما را
که مدد کند شمارا پروردگار شما به سه
هزار از فرشتگان فرودآورده‌شدگان
بلی البته اگر صبر کنید و پرهیزکنید و بیایند برشما
همین دم (از جوش‌شان) مدد میکند بشما پروردگار شما
به پنج هزار از فرشتگان نشان دار

(تفسیر در داخل پشتی دومی)

شفق

SHAFAQ

ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان کمیسیون ارشاد فرهنگ

ددویم دوردریم کال لسمه اویولسمه گڼه ثور- جوزا - "۱۳۶۷"کال

آنچه درین شماره میخوانید:

۱- پیغام شفق

۲- کودتای بدفرجام ثور

۳- بیانیه برادر"حکمتیار"درراابطه باعیدوحقوق زن

۴- تبصرهٔ سیاسی

۵- هنری کسینجرو و پیژنی

۶- امضای فیصله نامهٔ ژنیوا...

۷- مطلبی دربارهٔ معاهدهٔ ژنیوا

۸- دکرکیچ اصل عامل

۹- مردان احرار

۱۰- تنظیم اوشخصیتونه

۱۱- نگرشی براصل شوری

۱۲- فقهی درسونه

۱۳- تاریخ فقه

۱۴- مرورگذرایی برجنبشهای اسلامی مصر (جهان اسلام)

۱۵- استشراق چیست و...

۱۶- سمنهایی ازخون بهار انقلاب...

۱۷- ددین احیاء وتجدید

۱۸- دستورالعمل حکومت انتقالی

PROPERTY OF ACKU

بسم الله الرحمن الرحیم

فروغگر"

پیغام شفق

رهآورد مقاومت ده ساله نهضت اسلامی افغانستان :

تاریخ مولود پندار بشر نیست و نه کاروان وقطار وقافله یی است که به اشاره این وآن مسیرش را بپیماید یا تغییر بدهد ویا از حرکت باز ماند، تاریخ وحرکت آن تک بعدی نیست که بتوان فقط از عقب عینک فلان فیلسوف و سیاستمدار به تحلیل وتجزیه آن نشست ... آن چه میتوان به تاریخ تعریف قایل شد با آنتا وابستگی وتبعیت عام وتام تاریخ است به اراده خالق تاریخ ومشیت ازلیش ، هم واست که به حکم "سیروا فی الارض فینظروا کیف کان عاقبة المکذبین " صداقت وکذب بشر را با مقایسه ادوار تاریخ به نسلهای آینده انسانی درس میدهد وانتخاب راه فطرت که تقاضای زنده گی انسان است به حضرت انسان امر می فرماید... درین پهنهٔ گسترده ووسیع آزمایش که انسان در دو راهی خیر وشر قرار دارد ودر انتخاب هر یک مختار است ، خواهی نخواهی از دستبرد تصادم این دو قوت متضاد بی تفاوت مانده نمیتوانند ،که وقوع این تصادم قاطعا" درسرنوشت هر انسان وجوامع انسانی باب بزرگی را باز نموده است وتاریخ نیز در اصطلاح سوسیولوژی الهی وجامعه شناسی آسمانی درگیری قوای حق با باطل را در تداول لیل ونهار وماه و سال وقرن و... میرساند.

جامعه افغانستان که در عهد خلیفه سوم پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم کیش ابدی اسلام عزیز را بحیث نصب العین زنده گی خویش پذیرفته است در راه پاسداری وحراست از ناموس اسلام ،الی یومنا از هیچگونه قربانی وایثار دریغ نورزیده اند ، در برابر هر غاصب ستمگر بی باکانه مقاومت کرده اند ودر راه بالنده گی اسلام عزیز حماسه های فخرآفرین بپا کرده اند... جامعه افغانستان از همان آوان در برابر باطل وستمگری قرار گرفته اند ودر مقاطع گونه گون زمان ،حتی الوسع از اصالت خودشان دفاع کرده اند وبا قوای باطل مردانه رزمیده اند ،این که خصوصیات قرنهای مختلف در رابطه با جنگ حق وباطل چگونه است نظر به موج گیری حوادث وویژه گیهای هر قرن تاریخی واجتماعی ، سیاسی فرق میکند وجهت توضیح آن باید به کتب معتبر تاریخ مراجعه کرد، واما در دوران ما که دوران

شگوفایی جنبشهای اسلامی است ونهضت اسلامی دوران ما درکشورنیز ازخصوصیات دیگری برخوردار است وبا قوت اهریمنی یی که مقابل است نیزبچندها مرتبه فرق دارد ازقوتهای شیطانی قرون وزمانه های گذشته ...

تراکم استبداد فرمانروایی وشاهنشاهی درافغانستان وخفقان چندصدساله نسل های پی درپی کشوروضعی را برجامعهٔ ما حاکم کرده بودکه رگ ،رگ جامعهٔ ما مصاب به اذیت مزمن وجانگاه خموشی و خموده گی بسرمیبرد ، بویژه درسه صدسال اخیر ، که زمان استعمارکهن انگلیس را نیزدربرمیگیردونا کرده گی های دودمان فاسدمحمدزایی رانیز... بیداد واستبداد داخلی با استعمارخارجی یکجا ،هنگامی درافغانستان به اوجش رسیدکه ظاهرشاه بی کفایت ، شاه عیاش وبی فرهنگ اسبق افغانستان ، درمعامله گری هایش ، به خصوص درمعامله گری با استعمارسرخ امپراتوری روسیه به حدجنون ودیوانگی رسید ، قانون دوران ظاهرشاه منحیث آیینه تمام نمای رذالت اخلاقی برجامعه افغانستان مسلط شدوذهنیت نیروی جوان کشوررا برای پذیرش فرهنگهای اجانب مستعدساخت که سرانجام با استفاده از نقاط ضعف فرمانروایی ظاهرشاه وتطبیق پلانهای مرحله وارش دربین دولت ،روسها موفق شدند ، ملت ما را به سرنوشت کنونی مبتلاسازند ، که ماحصلهٔ این سرنوشت زنجیروقلاده ، زندان واعدام ،زنده بگور کردن وقتل وغارت عام ،تخریب سرتا سری افغانستان وخلق هزارها مشکلات وپرابلمها به نسل آینده ،موج خون واشک وضجهٔ یتیمان وبیوه گان ونوباوه گان معیوب وتشکیل مزاریک ونیم ملیونی شهدای انقلاب اسلامی وهزاران هزارآلام دیگری که با ملت قهرمان ما درجنگ و نبرد است .

حادثه هفت ثوروحماسه ۸ جوزا و۱۴– حوزا درپل چرخی ازپی آمدهای غزایم جارحانهٔ استعمارسرخ با استفاده ازبی علمی ظاهرشاه خاین بود ،که درحادثه اول مقدمهٔ بربادی سرتاسری افغانستان گذاشته شدودرحادثهٔ دوم ،بخشی بزرگی ازنیروی رهبری آگاهانه آیندهٔ افغانستان را ازنسل آینده بازگرفتند... درحماسه های ۸ جوزای ۱۳۵۸و۱۴حوزای – همین سال سران شناخته شده وپیشتازنهضت اسلامی افغانستان طوردسته جمعی درمحوطهٔ زندان پل چرخی بعدازمقاومت دلیرانه درحالی که ازکشته های کمونستها ،پشته های ساخته بودندبه استقبال شهادت شتافتند ، شخصیتهای نخبه یی که درین قیام ورستاخیز. سرنوشتسازودرگیری نمونه علیه قوای باطل به شهادت رسیدند نوبت اول تعدادآنها به "۱۱۷" تن می رسید ودرمرتبه دوم به "۴۵"تن ...

دستآوردبزرگی که درحقیقت محصول خون پیشتازان نهضت اسلامی وتابعین انها است امروزبعدازده سال مقاومت وپیکار ،خبیث ترین ابرقدرت شیطانی ، استعماری واستکباری را درافغانستان به زانودرآورد ، نویدظفرمندی برقوای

باطل واستقرار حکومت صددرصد اسلامی را بما وآن همه داغ دیده گانی که بامید همین نوید، بهترین عزیزان شان را درمعرکهٔ حق وباطل ازدست داده اند، در افغانستان قهرمان پرورمیدهد واگر خواست خدا باشد درهمین روزهای نزدیک شاهد وحدت مجاهدین وپیاده شدن حکومت اسلامی درافغانستان خواهیم بود، این که جای عزیزان ازدست رفتهٔ ما در پهلوی ما خالی است، حرارتی بما ونسل های آینده ما می بخشدکه تاجان درتن داریم به نشاط سرشار ولبریز علیه سایرقوتهای باطل خواهیم رزمید ودر راهی قدم خواهیم نهاد که نقش قدم آنها گل بروید وجهان پرازفتنه را به جهان امن وامان مبدل سازد.

روح شان درمقام علیین ورا هشان مستدام ، انالله وانا الیه راجعون



کودتای ننگین ثور و شکست روس

ذبیح الله "قریشی"

اگر تاریخ بخون غنودهٔ کشور عزیز خویش را ورق بزنیم، هر صفحه و جمله و سطر و کلمه اش را بخون بهترین فرزندان میهن رنگین می یابیم.

درهردوروزمانیکه جباران خون آشام برکشور ما یورش آورده ملت آزادهٔ ما یک پارچه دربرابر آن بپاخاسته وچنان شلاق محکم برفرقش کوبیده است که تا پایان تاریخ بساط استعماریش ازسراسرگیتی جمع شده که حتی ازبسیاری آنها جز نام، نشانی نیست.

ولی همواره چیزیکه قامت راست ملت آزادهٔ ما را خمیده ساخته است موجودیت گندیدهٔ سردمداران مزدور ونامسلمان وخوش خدمت به استعمار درجامعه بوده است، هرزمانیکه مردم مسلمان وانقلابی جلوی پیشروی استعمارگران را گرفته وآنها را بسرافگندی تمام ازکشورخارج ساخته، استعمار به افراد وخانوادهٔ های دارائی هویت وشخصیت کاذب پناه برده تا بتواند حلقهٔ استعماریش را ازراه دیگری دردست وپای ما داشته باشد.

هرگاه ازگذشته های دوربگذریم در زمانیکه ملت مجاهد ما انگلیسها را ازکشور میرانند، گاهی انگلیسها در لباس امیرعبدالرحمن وامیردوست محمدخان وگاهی هم به لباس شاه شجاع وزمانی هم درلباس امیرحبیب الله مشهوربه "امیرشهید" درمیان جامعه ما حضور می یافت.

باوجود تمام این رنگبازی های انگلیسها، پدران ما با قربانی بیدریغ، مادروطن را ازچنگال استعمار بریتانوی نجات داده که بدبختانه استعمار درلباس امان الله غازی!! یعنی شخصیت ضداستعماری! که از همه بیشتروزیاده ترتاروپودش در تغاره استعمار عجین گردیده بود، حضوریافت.

به همه هویداست که تهداب لادینی بدستان کثیف این رادمرد قلابی گذاشته شد که بعدها نادر، ظاهر، داود وهرکدام به نوبهٔ خوددرین راه سهم فعال گرفتند.

برعلاوه از ترویج فحشاء وحرکت های ضداسلامی درکشور، زمامداری امان الله ونادرخان باعث آن شد

تا سرزمین های مستقل اسلامی در "آسیا میانه" از پیکرجهان اسلام جدا وبه حلقوم گندیده کمونیزم تاامروز فرورود.

ملت مسلمان ما امان الله راکه به اصطلاح سرش پیش روس وپایش نزد غرب بود، به پیشتازی جوان آزاده کوهدامن "حبیب الله خادم دین رسول الله" ازکشوربیرون ریخت. که درنتیجه، استعمار شرق وغرب از پا درآوردن این جنبش خروشان اسلامی دست وحدت به هم داده وروسها غلام نبی خان چرخی را برای دفاع ازرژیم سلطنتی با قوای تا دندان مسلح برای مقابله با این جنبش مردمی فرستاد.

این جنبش اسلامی ومردمی که دردل هرافغان آزاده ریشه داشت سرانجام ارتش روسی را شکست داده وزمام امور را بدست گرفت.

تا اینکه نادربدستیاری روس و انگلیس ویکدسته ازشکم پرستان داخلی ازراه پاره چنار داخل کشورشد که با بقدرت رسیدن "آل یحی" باب دیگری بتاریخ خون آلودکشورمرد خیز ما کشوده شد. مجاهدآزاده کوهپایه های کوهدامن ویارانش بدستیاری روحانیون دربار جام شهادت را درراه استقرارنظام اسلامی سرکشیدند. آری! ازهمان روزبه این سوملت مجاهدوآزاده ما باردیگردرتنگدستی وفقرسوخته وسرزمین ما تحت تأثیر غیرمستقیم استعمارقرارگرفت.

شراره های نفاق وشقاق، بدبینی و.....، رشته های اتحاد، وحدت، صمیمیت وایثار را سوزانید.

تعصبات خشک وپوسیده منطقوی، قومی، قبیلوی، لسانی جهت بقای نظام شاهی به اوج خودرسید.

"آل یحی" بمنظورخاطره خواهی و وخوش خدمتی بیشتربه سرمداران امپریالیزم جهانخوارشرق درهای با عفت سرزمین اسلامی ما را برای ترویج افکار لادینی آنها باز گذاشته حتی سینما، رادیو، اخبار ومجلات را در خدمت اندیشه پوچ مارکسیزم قرار داده وسران مزدورگروه های چپی را که بدون شک افراد تجریدشده از جامعه لاو بال، عیاش، چاقوکش ودرباری بودنددرسرخوان خودنشانده حتی با قوای اجنبی از آنها دفاع می کرد.

افرادواشخاص با ناموس، دین پرور، مجاهد، وطن دوست وآزاده را به سیاه چال های زندان کشانیده وبه پایه دار میبستند. که خاطرات تلخ دوران سیاه وننگین حکمروائی این خاندان درصفحات غم آلوده تاریخ کشورما برای همیش ثبت است. سرانجام موجودیت گندیده خانواده "آل یحی" باعث آن شدتا بشوی یکها مرام دیرینه خویش‌را که اشغال افغانستان بوده در معرض تطبیق قراردهدواز طرف دیگر بتوانندنهضت اسلامی که پایه های نظام را به لرزه درآورده وباعث یکپارچگی ملت گردیده بوده است،

در نطفه خنثی سازد.

روسها بواسطه دست پروردگان دربار ظاهرشاهی وداودشاهی ده سال قبل از امروز فاجعه ننگین (ثور) را به ملت رنجدیده ودردکشیده ما به ارمغان آورد.

درست بیاد داریم که همین مزدوران دربار که امروز خودرا مدافع کارگر و برزگر قلمداد می کنند در اولین روز بقدرت رسیدن شان علاوه از آنکه دربار یاداران شان را زیر آتش گرفته بروی عام مردم درکوچه وبازار نیز آتش گشودند، صدها کیله فروش وشور نخودفروش ولیلا می فروش ایکه برای پیدا نمودن قوت ولا یموت فرزندان مظلوم شان درپارک زرنگار وگوشه خیابانها مصروف خرید و فروش اموال شان بودند فدای آرمان های پلید این مدعیان دورغین و کاذب حقوق بشر که انقلاب را درکشتن وریختن خون مظلومان وکارگران میدانند، شدند.

بلی! کودتای ننگین شور لکه دیگری از جنایات وحشتبار سردمداران سفاک وجانی کمونیزم درجهان بالعموم ودرسرزمین های اسلامی به خصوص است که درجبین سیاه مکتب پسیف کمونیزم بدرستی مشاهده می شود.

بلشویکها با بقدرت رسیدن درروسیه نه تنها سیاست های توسعه طلبانه تزارها را قدم بقدم تعقیب نموده بلکه برای تسخیرکامل سرزمین های آزاد ومستقل با نیرنگها وترفنده های جدید پا فراگذاشته تا هست وبود یک جامعه را بکلی به غارت ببرده، دین وآیین ومذهب وناموس شان را زیر پا کنند. به همین اساس روسها بنا بر احصائیه غلط وبرداشت نابسالم که از جامعه ما داشتند، بدست پرورده گان خودکه آنها را شایسته تر از محمدداؤد جهت تطبیق مرام های استعماری خود یافته بودند، دستور داده تا حکومت محمدداؤد را سرنگون وخود به کرسی اقتدار تکیه زنند.

مشعلبدستان آزاده کشور که تحت قیادت ورهبری نهضت اسلامی برای سرنگونی نظام های فاسد وحاکم بر حیات جامعه واستقرار حاکمیت الهی پرچم پر افتخار جهاد در امتداد مبلند نگهداشته، با بقدرت رسیدن نوکران گوش بفرمان کرملین که توسط جت های بم افگن روسی بقدرت رسیدند به مبارزات شان شدت بخشیده تا اینکه جهاد مقدس ما تحت رشادت های مدبرانه پیشتازان نهضت اسلامی کشور سرتاسری گردید، که همه یی ملت پا برهنه وشکم گرسنه ما مردانه وار به پشتیبانی داعیه برحق نهضت بقربانی بیدریغ حاضر شده، شهادتها وویرانگری ها را با جبین کشاده پذیرفتند، که این حرکت خروشان وپرتلاطم منجر به سرنگونی نظام پوشالی کمونیزم در سرزمین عزیز ما ن گردیده می رفت.

سردمداران جهانخوار کرملین برای جلوگیری از سقوط کامل مزدورانش با بیش،

ازصد وهشتاد هزار قوای تاد ندان مسلح به سر زمین شهید پرور ومجاهد خیز ما بیرحمانه ووحشیانه یورش آوردند، سرتا سر زمین ما را به زندان خوفناک تبدیل نموده وبخاک وخون یکسان نمودند ده ها، قریه ها وشهرها ومساجد ومکاتب ودانشگاه ها وآموزشگاه ها وخانقاه ها را یکسره ویران کرده، گلستانها بوستانها وتاکستانها را به آتش کشیدند، جوانان قدونیم قد را از دم تیغ کشیده، عروسان را بیوه وکودکان را درآغوش گرم مادران سربریده پدران را کمرشکسته ومادران را داغدار ساخته اند.

درنتیجۀ کودتای نامیمون ثور که برملت ما تحمیل گردیده وتجاوز بیشرمانه ارتش وحشی کمونیزم را درقبال داشته است، چکمه پوشان سرخ با دستان گنهه خیزشان هرروزهزاران هزار فاجعه آفریده، از فضا وزمین درهمه جا آتش باریده ومی بارند که ازخون فرزندان صدیق میهن جیحون خروشان خون جاری است.

سردمداران سفاک وجانی کرملین باید بدانند که ملت ما این همه قربانیها را با جبین کشاده پذیرفته وقیام خونین وخشم پرخروش شان تا سرنگونی کامل امپریالیزم جهانخوار روس وهمپیمانانش واستقرار حکومتی الهی درسراسر گیتی ادامه دارد. استکبار جهانخوار به سرمداری امپریالیزم جنایتکار سرخ وسیاه باید بداند که اکنون ملت با درک ما آگاهانه قضایای سیاسی شان را بررسی نموده، فریب زدوبندهای استعماری شرق وغرب را درقبال مسئله شان نخواهند خورد.

وبه این امید کاذبانه ایکه استعمار درتعیین سرنوشت ملت مجاهد ما از طریق کنفرانس "ژنیو" وانتخاب شخصیت های مزدوربه جای "نجیب" وامثالهم دل بسته است برای همیش فراموش کنند، دیگرآن زمان را به اصطلاح گاوخوردوآب برد.

انشاءالله آنروز رسیده است که ارتش پی آرزم کمونیزم نتیجه کودتای ثور وتجاوز بیشرمانه و وحشیانش را درسرزمین باستانی و مردخیز ما چون لشکریان ستمگرچنگیز ومغل وهلاکو وانگلیس ... چشیده سرافگنده ورسوا، نتنها از افغانستان بلکه ازسرزمین های اشغالی که در نتیجه تجاوز بدست آورده است، کوچانیده شود.

انشاءالله آنروز فراخواهد رسید که بدستان توانمند مجاهدین آزاده افغانستان، مردم مظلوم واسیر روسیه اززیر یوغ کاخنشینان کرملین نجات یافته وآزادزندگی نمایند.

د وروړ حکمتیار د هغې وینا متن چې د «۱۳۶۷» کال د ثور په دیرشمه نیټه یې د نصرت سینی په جامع جوومات کې د جمعې ترلمانځه د مخه کړې ده . په دې وینا کې لومړی د اختر د میاشتې وضاحت شوی او په وروستي برخه کې د ښځو د حقوقو په باره کې مطالب لري ، لوستل یې مهم دي .

(اداره)

الحمدلله نحمده ونستعینه ونستغفره ونؤمن به ونتوکل علیه فاعوذ بالله من شرورانفسنا ومن سیئات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادی له .

زما وروڼو! له ما سره څه مسایل دي غواړم نن پرهغه باندې بحث وکړو. لومړی مسئله د روژې او اختر په ارتباط ده چې په پیل او پای کې ئې اکثراً اختلافات را څرګندیږي. هر کال په پاکستان کې د روژې شروع او د اختر پیل په ټول پاکستان کې ګڼ شمیر اختلافات را پیدا کوي.

سږ کال په پاکستان کې درې اختره شول، په لومړي ورځ په دوهمه ورځ په دریمه حتی په ځینې ځایونو کې برخوردو نه هم شوي دي د یو بل تکفیرول، د یو بل پرخلاف لعن او طعن ویل ، نور د اسلام د دایرې نه خارج ګڼل او لاس او ګریوان کېدل ، پر یو بل باندې ډزې کول ، جوماتونو ته قلفونه اچول ، په داسې حال کې چې دین

د وحدت ضامن دی دین اختلاف له مینځه وړی ، دین د ټولو مسایلو په هکله انسان ته واحده لاره ورښئی او هغه د ځا شخصی ذهن ته نـه پریږدی چـه د یو د بل په نسبت فرق ولری او د اختلاف باعث شی بلکی په هغه کی قاطع او وروستی یوځینی پرحقه فیصله کوی او دین فرمائی چی حق یو دی دوه کیږی نه ، په داسی حال کی چی دین د وحدت ضامن وی خو متأسفانـه چی د دین یوه ستره مسئله د لـوی اختلاف او کش مکش سبب ګرزی او بیا دا اختلاف او کشمکش هم دینی رنګ پیدا کوی هغه اختر چی باید د ورور ولی د وحدت صمیمیت او محبت پیام له ځان سره ولری د دغه اختلاف په وجه هغه اختر چه بایـد زمونږ د وحـدت اختر شی ، د اختلافاتـو اخـتر تری جوړیږی ، هم د روژی شروع کیدل او همځی پای ته رسیدل داسی مصیبتونـه او اختلافات له ځانـه سره راوړی پدی هکله په عام ډول دوه مذهبه دی یو هغه چی د مطالعو اختلاف ته اعتبار ورکوی او وائی چی هره علاقه او منطقه ځان تـه بیل بیل مطلع .... لری او هغوی بایـد روژه د سپوږمی لیدلو سره پیل کـړی ، او بیائی د سپوږمی له لیدلو سره پای تـه ورسوی او اختر وکړی .

او بل مذهب دا دی چی د مطالعو اختلاف ته اعتبار نـــه ورکوی او وائی چـی د دنیا په یوه ګوټ کی هم چی څوک سپوږمی وګوری په شرق او غرب باندی لازمه ده چی له هغه سره سم روژه ونیسی او همدا ډول د هغه مطابق روژه پای ته ورسوی .

زمونږ مذهب همدغه دوهم حکم کوی ، هغه چی د مطالعو اختلاف ته اعتبار نه ورکوی که پـه شرق کی څوک سپوږمی وګـوری د غـرب پرخلکو لازمه ده چـی روژه ونیسی او اختر وکړی ، په اختر کی روژه نیول حـرام او منع دی د اختر په ورځ بـه څوک روژه نه نیسی ، شکی روژه به هم نه نیسی دین شک ختموی ، له شک سره عبادت نشی کیدای دا ځکه چی پیامبر (ع) فرمائی او په کوم حدیث چی زمونږ فقه او مذهب استناد کوی او هغه د دلیل په حیث باندی وړاندی کوی . هغه دادی چی فرمائی :

تاسی د سپوږمی له لیدلو سره روژه ونیسی او د هغی د لیدلـو سره افطاو کړی ، روژه ختم کړی او اختر وکړی دا حکم عام دی او خطاب ټولو تـه متوجه دی او پـه دی خاطر زمونږ مذهب وائی چی که د دنیا په شرق یا غرب کی سپوږمی ولیدله شوه او دا شهادت ورکړای شو چی مونږ سپوږمی لیدلی ، پس پـه هغه سره بـه اخترکیږی او روژه به ماتیږی ، قرآن عظیم الشان هم صریحاً فرمائی : فمن شهد منکم الشهر فلیصمه له تاسی نـه چی څوك د روژی میاشتی تـه داخـل شو (فلیصمه) پس هغه ذی روژه ونیسی دا میاشت باید هغه روژه شی . د میاشتی د داخلیدو معنی داده چی که هم سپوږمی له محاظ ته ووزی او د دنیا په یوه ګوټ کی ولیدله شی چی دا دی سپوږمی له محاظ نه وتلی او نوی مسیرئی شروع کړی د دی معنی داده چی نوی میاشت پیل شوی ، سپوږمی پـه میاشت کی یوځل د محـکی شا او خوا ته راګرځی ، هغه په یو میاشت کی خپـل حرکت

پوره کوی پدی یوه میاشت کی څو ساعته د خلکو له نظر نه پټه وی همدغه حالت ته چی د خلکو له سترگو پټه وی محاظ وائی چی له محاظ نه ووزی معنی ئی داده د نوی میاشتی مدار او مسیر شروع شو. اوس چی د دنیا په هرگوټ کی څوک سپوږمی وگوری معنی‌ئی داده چی تیره میاشت ختمه شوه او نوی میاشت پیل شوی ده. او قرآن فرمائی چی که له تاسی نه څوك دی میاشتی ته حاضر شو، او په دی میاشت کی داخل شو، هغه باید روژه ونیسی، د علمی لحاظه هم ترټولو دقیق نظر همدغه دی چی زمونږ مذهب غوره کړی، په دینی لحاظ هم د پیغمبر(ع) له حدیث او متعددو روایاتو مطابق په بله منطقه کی د خلکو سپوږمی لیدل چی کله‌یی پیغمبر (ع) ته اطلاع ورکړی نو د هغی اطلاع مطابق ئی حکم کړی دی له لری منطقی نه خلک راغلی ویلی‌ئی دی چی مونږ سپوږمی لیدلی پیغمبر (ع) له همدی خبری سره سم خلکو ته حکم کړی او په همدی‌ئی اعتبار کړی دی که دا اختلاف د مطالعو په اعتبار وای نو پیغمبر (ع) به د هغو کسانو په گواهی او شهادت حکم نه کاوه ځکه هغوی د بلی منطقی نه راغلی وو.

کوم کسان چی د مطالعو اختلاف ته اعتبار ورکوی هغه په دی دلیل استنادکوی چی، د یوی او بلی منطقی د لمانځه په وختونو کی هم فرق شته د شپی او ورځی په منځ کی هم‌فرق شته همدا راز د سپوږمی په لیدو کی او مطالعوکی هم فرق شته خو دا ډیر نادرست دی، وجه‌ئی داده چی شپه او ورځ د ځمکی او لمر په حرکت پوری اړه لری هغه پدی دوارو پوری متعلق ده او میاشت د سپوږمی په حرکت پوری تعلق لري دا دواړه له یو بل سره قیاس‌کول صحیح نه دی. دقیقه نظریه همدا ده چی د مطالعو په اعتبار اختلاف نشته‌که د دنیا په غرب کی یو څوک سپوږمی وگوری د شرق په خلکو باندی لازمه ده چی د هغه مطابق روژه ونیسی او اختر وکړی زمونږ د مذهب علماوو ترمینځ اختلاف صرف په دی کی دی چی آیا په راډیو، تیلفون، تلویزیون او لوډسپیکر اعتمادکیدای شی‌که نه او د هغوی له مخی فیصله‌کیدای شی که نه، که زمونږ په مذهب کی څوك پدی رابطه اختلاف هم‌کوی صرف پدی برخه کی دی او بس دا چی آیا پدغسی شهادت اعتماد کیدلای شی چی هغه د راډیو، تیلفون، تلویزیون او د لوډسپیکر له لاری وی‌کنه عملاً خو هغه کسان گوری چی دي ته اعتبار هم نه ورکوی خو چی کله له کراچی له د تیلفون او راډیو په ذریعه کوم خبر ورته راځی پرهغه اعتماد کوی.

د هغه پر اساس روژه نیسی او اختر پرې‌کوی خو چی لږ له پاکستان نه بهروی بیا پری اعتمادنه کوی، دلیل ئی هم دا دی چی دا خو بیل ملک دی، مگر د اسلام له نظره دغه حدود څه اعتبار لری ؟

له دینی لحاظه، پاکستان، افغانستان او ایران څه اعتبار لری !؟ دا حدود چا وضع کړی ایا دین وضع کړی ؟ څوک ددی په اساس فیصله کولای شی ؟ که اوس دا حدودنه وای او دا ټول اسلامی ملکونه یو ملک وای او د هغه یو پایتخت وای بیا چی په هغه پایتخت کی چا سپوږمی لیدلی وای او د هغه په اساس فیصله شوی وای نورو به

وربانډی عمل کاوه که نه ؟ زه له همدغو ورونو نه پوښتنه کوم چی تاسی په دوهمه ورځ یا په دریمه اختر کړی او د کراچي د هلال کمیټي د فیصلي په اساس سو روژه نیولی او اختر سوو کړ ، مګر د دی هلال کمیټي له مجلس نه تاسی ته دوه شاهدان راغلي او دا د شهادت سامع تاسی ته ګواهي د رکړی چی پدی اساس سو فیصله کړی چی نن اختر کوو ؟ نوته ولی د هغه په اساس عمل کوی . دا هره ورځ خوزه دلو د سپیکر په غږ سره روژه نیسم ، او دلو د سپیکر په غږ سره افطار کوم زما عملي وضعه خو داسی ده . هغه زما څنګ ته نه دی ولاړ ، ګورم ئی نه خو زه د هغه په شهادت عمل کوم ، پدی خاطر چی دلته زما او د هغه ترمینځ یو اعتماد شته زه پدی باور لرم چی دا سړی چی دلته په جومات کی آذان ورکوی دا دروغ نه وائی زه پر هغه اعتماد کوم پدی خاطر خو زما روز مره عمل همدا دی . په پیشنمی کی چی هغه آذان او غږ وکړی نوزه خوراک بند کړم او ما ښام چی آذان وشی په افطار شروع کوم ، دا هغه بله ورځ د اختر په ورځ ماته له یوی نمایندګی نه تیلفون شوی . وی ویل مونږ ته دومره پیسی خرڅ او د فطر صدقه راغلی تاسی ئی له دغه ځای نه توزیع کوی او که ئی مونږ له دی ځای نه توزیع کړو ، یو کس مونږ ته تیلفون کړی ، پدی خاطر چی زه اعتماد لرم ، د هغه غږ هم پیژنم په هغه باور هم لرم چی هغه ماته دروغ نه وائی ، د هغه پدی تیلفونی پیام چی شاهد هم نشته اعتماد کوم او فیصله کوم چی دومره پیسی تاسی په خلکو وویشی دا د خلکو صدقه فطر دی هغی نمایندګی رالیږلی دی همدا راز پکار خو دا ده چی کله د دنیا په یوه ګوښه کی سپوږمی ولیدلی شی که د دغسی یوی منبع نه ددی اعلان وشی چی په هغه اعتماد کیدلای شی داسی چی انسان ګمان کوی چی هغه دروغ نه وائی ، په کار داده چی د هغه مطابق عمل وشی دروژی او د اختر په باب به کمونیستی ملکونه هم احتیاط ښيء هغه هم کوشش کوی چی ځان داسی وښئي چی متقی دی او د اسلام سخت پابند دی هغوی هم دروغ نه وائی پدی خاطر چی دا خبره ګرانه ده چی دغسی یو لوی دروغ ووائی د هغوی فیصله د یوه قوم ژبه ده د یوه دولت فیصله ده داسی عادی خبره نه ده ډیره ګرانه ده چی د روژی او د اختر په ارتباط دی په یوه ملک کی ټول قوم او ټول دولت د رواغ ووائی ، که چیری پدی سړی اعتماد نشی کولای علی الاقل داسی لارجوړ وی چی اعتماد ئی حاصل شی د تیلفون پر ذریعه دی له داسی چا سره تماس و نیسی چی هغه ورته اطمینانی سړی وی چی پرربښتیا هلته څومره خلکو اختر کړی ، سپوږمی لیدل شوی که نه ؟ اوس خو داسی تسهیلات برابر شوی چی له سعودی نه په دریو څلورو ساعتو کی سړی پاکستان ته راځی ، د اختر میاشت چی هلته چا لیدلی وی د شپی سهار دلته را رسیږی پکار داده چی پدی باب دا اختلاف ختم شی او دا اختلاف له پاکستان نه افغانستان ته انتقال نکړی ، که څه هم الحمد لله په اکثرو کمپونوکی د ښوا په شان د حنفی مذهب

مطابق خلکو روژه نیولی او اختر ئی کړی ولی په ځینی ځینی ځایونوکی اختلافات هم تری را پیدا شوی دی زما امید دا دی چی دا اختلافات مونږ افغانستان ته انتقال نکړو دا اختلافات دلته په پاکستان کی پریږدو او دا مهمه مسئله ده .

پدی کی لوی مسئولیت د علما وو دی ، علما باید په جرأت او د مسئولیت په احساس سره پدی هکله راوړاندی شی او د خلکو سوالونو ته ځواب ووائی تشویش ئی رفع کړی او وحدت ئی تأمین کړی ، پسری نسردی چی پدی مسئله کی د قوم ترمینځ اختلاف را پیدا شی او خبره دی حدته ورسیږی چی د یوه بل پرخلاف وسله را واخلی او لاس اوګریوان شی او د اختر ورځ د مصیبتونو شخړو جنګونو او د لاس اوګریوان کیدلو ورځ شی .

زما دوهمه مسئله داده چی زمونږ په ټولنه کښی انسانان ټول نارینه اوښځی دواړه له خپلو اسلامی او انسانی حقوقونه محروم دی .

جهل ، محرومیت او مظلومیت پسری حاکم دی . ولی ښځه تر نارینه نه زیاته محرومه ده ، ښځه د میراث له حق نه محرومه شوی ده ، ښځه د مهر له حق نه محرومه شوی ، کونډی د میړه د انتخاب له حق نه محرومی شوی هغه په میراث کی شمیرل شوی ، هغه په جبر او زور په نکاح ورکوله کیږی هغه له دین نه بی خبره پاتی شوی ده ، هغه اوس هم پلار د مال او حیوان په څیر خرڅوی څنګه کولای شو چی مونږ دااوس پدی حالت کی تبدیلی راولو، او پدی کی لکه څنګه چی اسلام حکم کوی هماغسی عمل وکړو .

څنګه کولای شو چی د دی طبقی حق احیاء کړو ، پیغمبر (ع) خوپه دی باب دومره تاکید کوی چی په آخری خطبه او د حجة الوداع په خطبه کی یو هغه مضمون چی ورباندی ترکیز کوی او د امت توجه ورته را اړوی هغه داده چی وائی د ښځو په باب له خدای نه وویریږی . چی هغه ستاسی په لاس کی امانت دی ، په آخری خطبه کی پیغمبر (ع) د همدی خبری تاکید کوی چی د ښځو په هکله له خدای نه وویریږی ، هغه خدای ستاسو په لاس کی درکړی . مهمه مسئله داده چی مونږ څنګه کولای شو چی ښځی له دین نه خبری کړو ؟ زه یقین لرم چی ترڅو ښځه له دین نه خبره نشی اسلامی ټولنه نشی جوړیدای ، ځکه‌دا مورده چی د زوی شخصیت سموی مور چی له دین نه بی خبره وی ګرانه ده چی د هغی په غیږ کی دی مسلمان زوی وروزل شی ، څنګه‌کولای شو دین ښځو ته هم ورسو دا دین ښځو او نارینه وو دواړو ته را نازل شوی ، دواړوته راغلی او دواړه پدی مکلف شوی چی په دین به پوهیږی او بیا به پری عمل کوی .

د هغوی د وجایبو وظایفو اوکړو وړوتر منځه ډیرکم او . . . استثنائی تفاوتونه شته چی هغه هم د هغوی په هغه طبیعی حالت پوری اړه لری ، که نه وی د هغوی

وجایب ورته او شبیه دی ، دا دین او د هغه زده کړه او علم ، په دواړو فرض دی قرآن دواړوته خطاب کوی او چې چیرته هم د «المؤمنون» یا «المؤمنین» ذکر شوی په دی کی دواړه شامل دی .

کله کله ئی په مشخص ډول هم ښودلی . (المؤمنون والمومنات بعضهم اولیا بعض یامرون با لمعروف وینهون عن المنکر ویقیمون الصلوة ویوتون الزکوة ویطیعون الله والرسوله . اولئک سیرجمهم الله ان الله غفور رحیم)خطاب دوه وتنوته راځی پیغمبر(ع) هم مکلف ووچی دا دین به ښځی او نارینه دواړوته رسوی ، یوه ته نه هغه مبارک لکه څنګه چی له نارینه وو نه بیعت اخلی له ښځونه ئی هم اخلی قران صریح فرمائی چی که ښځی راځی له تا سره پدی بیعت کوی چی غلابه نه کوی ، زنا به نه کوی افتراء به نه کوی ، د هغو نه بیعت واخله .

خو هغه مبارک دومره کړی چی د بیعت په وخت کی ئی لاس نه ده ورکړی د دست مال یو سر یوه نیولی او بل سرئی بل او په دی ترتیب ئی ورنه بیعت اخیستی پیغمبر (ع) د هغوی لپاره بیل بیل اجتماعات دایر کړی هغوی ئی را دعوت کړی او هغوی ته ئی خطاب کړی ، زمونږ د روایاتو په کتابونوکی دغه راغلی دی ، د پیغمبر (ع) په دور کی ښځی لمانځه ته راغلی . او د پیغمبر (ع) وعظ او خطبه ئی اوریدلی ده . پیغمبر (ع) په جومات کی د ښځو لپاره بیل ځای د صف په خاطر ټاکل زمونږ فقها وو هم د نارینه وو لپاره د ماشومانو لپاره بیا د ښځو لپاره په جماعت کی بیل بیل ځایونه ټاکلی دی .

اول نارینه دی ، بیا ماشومان او په پای کی ښځی، د پیغمبر(ع) په وخت کی ښځو په جهاد کی برخه اخیستی، دا چی پیغمبر (ع) نهه بیبیانی درلودلی ددی یوحکمت دا وو چی پیغمبر (ع) داسی کسان ولری چی د هغوی له لاری دا دین ښځوته ورسوی ، هغه په خپل لاس تربیه کړی ، بیا دا دده او د نورو ښځو ترمینځ واسطه او وسیله شی ، او د دوی په ذریعه دا دین نورو ښځوته ورسوی ، یو حکمت د نهو بیبیانو درلودلو همدغه وه ، مونږ ته ډیر صریح فرمائی ښځه بیل او مستقل مال درلودای شی چی په مهر ئی ترلاسه کړی دی یا په میراث دا د هغی مستقل حق دی هغه په کار هم اچولی شی په تجارت کی ئی هم مصرف کولای شی . هغه قرض اخیستی شی او قرض ورکولای شی . . . هلته چی د میراث په هکله بحث کوی فرمائی چی پس له هغه چی هغی وصیت کړی او د هغه قرض ادا شوی بیا د هغی نه پاتی برخه په دی شکل توزیع شی چی له دینه صریح معلومیږی چی هغه د خپل مال په هکله وصیت کولای شی هغه چاته ئی قرض ورکړی ، له چائی قرض اخیستی ددی په باب هم په خپل مال کی فیصله کولای شی ، که څه هم اولی داده چی ښځه په کورکی واوسیږی د ښځی مستقر او د اوسیدلو دایمی ځای کور دی هغه باید پرته له ضرورت نه له کورنه ونه وځی ولی هغه

د ضرورت په صورت کی له کورنه وتلای شی ، حج پری فرض دی له شرعی محرم سره په حج ته ځی ، او په حج کی به په احرام او طواف کی لاسونه له دی ځای نه (د لاس مروند ته اشاره) هغی خواته بربند او مخ به ئی هم بربندوی مخ ئی بربندوی هغه مکلفه ده پټه ولای ئی نشی ، لکه نارینه چی په طواف کی او احرام کی سر نشی پټولای ، پښی تولی نشی پټولای او احرام‌ئی څادر دی ، همدا راز ښځی هم مکلفی دی حج ته تلای شی ، هلته به‌یی مخ هم لوڅ وی او لاسونه به‌یی هم بربندوی پټولای یی نشی ، ښځه حج ته تلای شی ، هغه جماعت ته هم را تلای شی خو اولی داده چی په

کورکی واوسیږی ، د ضرورت په وخت کی له خپل کور نه هم وتلای شی پکار داده چی مونږ تفکیک کړو چی حلال څه دی او حرام څه ! د ښځو په هکله هم حلال او حرام معلوم دی ، هغه په حجاب مکلفه ده د هغی ستر عورت معلوم دی ، هغه د جاهلیت په شان له ناز او نخرو سره له کورنه نشی وتلای ، د دی نه منع شوی ، لکه څرنګه چی نارینه مکلف دی چه له ښځی سره مخامخ کیږی نو باید خپلی سترګی ټیټی واچوی همدا راز ښځه هم مکلفه ده چی له نارینه سره د مخامخ کیدو په صورت کی سترګی ټیټی واچوی او که ګوری یی هم دا صغیره ګناه ده ، مونږ ته اسلام دا ښئی چی د صغیره ګناه او کبیره ګناه ترمینځ فرق څه دی ؟ دا صغیره ګناه د دوو لمونځونو ترمینځ چی کومه صغیره ګناه څوک کوی امید دی چی خدای (ج) ورته عفوو کړی اوس پکار داده چی دا ټول حدود مراعات کړو ، هم د دی بندوبست وکړو چی ښځی په دین پوه شی او هم د دی خیال وساتو چی مونږ له حدودونه تیری ونکړو د ګناهانو مرتکب نه شو . او هغه کارونه ونشی چی هغه پر فساد مبنی وی او بد اخلاق ، غلا فحاشی او بد اخلاق رامینځ ته کړی د دی معنی داده .

ښه صورت دا دی چی نجونی مخکی له دینه چی بلوغ ته رسی د حدودو په مراعت مکلف کیږی په دی مرحله کی باید د هغی ښه روزنه وشی ، هغه باید چی په دین پوه شی ، دین ډیر وسیع دی چی پر انسان فرض دی دا علم ور باندی فرض ده ، ښځه باید په عقیدی داسی پوه شی لکه نارینه او دا وړه خبره نه ده ډیره پیچیده مسئله ده چی هغه شرک له توحیده نه تفکیک کړای شي ، متاء سفانه چی اوس زمونږ ښځی حتی د خپلی کلمی په الفاظونه پوهیږی، په لمانځه نه پوهیږی ، د میړه په حقوقو باندی خبری نه دی ، د پلار په حقوقو باندی خبری نه دی ، . . . د اولاد روزنه نشی کولای د قرآن عظیم‌الشان کتاب له مخی نشی لوستلای د حیض او نفاس او د او داسه په احکامو او د غسل په احکامو خبری نه دی دا به څنګه اصلاح کړو دی ته به دین څنګه رسوو . مګر مونږ اجتماعی مسئولیت نلرو ؟

دا صحیح ده چی پلار او میړه مکلف دی چی هغه به د دوی اصلاح او تربیه کوی ، ولی اسلامی حکومت هم دعوتګران علما ، او تنظیم او حکومت هم مکلف دی

چې د دې کار بندوبست وکړي لکه څنګه چې د ماشومانو په هکله مونږ د تعلیم او د تربیې بندوبست کوو همدا راز به د ښځو په هکله هم بندوبست کوو په دې برخه کې مونږ اجتماعي مسئولیت لرو پکار دا ده چې مخکې لدې نه چې ښځې بلوغ ته رسیږي هغه وخت چې په دې احکامو باندې مکلفې نه دي (په ډیرو په دغه وخت کې د هغوی دیني روزنه هم وشي، خو د دې معنی دا نه ده چې هغه بلوغ ته ورسید نور بس وعظ او تبلیغ او دعوت ور باندې منع کړي.

نه حتماً باید د شرعي حدودو په چوکاټ کې د هغوی د تربیې او د ورځنۍ بندوبست وشي تاسې راشئ زمونږ د روایاتو کتابونه وګورئ د احادیثو کتابونه وګورئ په هره صفحه کې به ئې ګورئ چې له یوې ښځې نه یوه صحابي روایت کړې.

تارینه د ښځې په وړاندې د شاګرد په حیث ناست دی هغه یوه خبره اوریدلې هغه نقل کړې او زمونږ د روایاتو کتابونه ترې حکایت کوي قرآن عظیم الشان هم د قهرمانو ښځو نومونه اخلي، د فرعون د ښځې، د حضرت مریم، خو متاسفانه چې اوس زمونږ پخپله ټولنه کې څوک د خپلې مورنوم نشي اخستیلای د پښتنو په سیئخ کې چې څوک د خپلې مورنوم واخلي، له کفرنه هم دا خبره ورته بده ده چې څوک د ښځې او لور نوم واخلي، ولې مونږ د پیغمبر (ع) د ښځو د بیبیانو نومونه پیژنو، د هغوی د لوڼو نومونه پیژنو، د اکثرو صحابه وو د صحابیاتو نومونه پیژنو په روایاتو کې او کتابونو کې راغلي، د اسلام پر صدر کې خلکو دا عارنه ګڼه، متأسفانه اوس چې د چا ښځه یا لوروا ده ته ځي لب سرین وهي، سرخي وهي عطر وهي، نازک کالي اغوندي او ځان سینګاروي هیڅوک د دې ممانعت نه کوي او دا عیب نه ګڼي خو که همدغه ښځه له سرخي او لب سرین نه پرته له حجاب سره د دین د زده کړې لپاره یو چیرې ځي دا عیب دی متأسفانه زمونږ د ټولنې دغه حالت و، اوس وګورئ چې مونږ ته څه را پیښ دي پکار داده چې پدې باب ځانګړی بندوبست وکړو لکه پیغمبر (ع) چې د خپلو بیبیانو له لیارې دین ښځوته رسولی باید دغسې مونږ هم څه بیبیانې ولرو چې هغه په دین پوه وي او د هغوی لپاره څه داسې بندوبست وي چې هغوی دی، ښځو ته دین ورسوي، که مونږ ښځې په دین پوه نکړو مونږ اسلامي ټولنه نشو جوړولای په دې جهاد کې ښځه دومره رول او نقش لري لکه مجاهدین، میړه یې شهید شوی صبر یې کړی، زوی یې په شهادت رسیدلی، قانع ده، راضي ده، صبر یې کړی، اوس کونډې دې یتیمان ورته پاتې دي صبر کوي، او د دې ښځو همدومره رول دی لکه د نارینه وو، قرآن همداسې فرمائي چې پکار داده د دین لپاره همدغسې خلک ورسیږي، ولې دا صحیح خبره ده چې ښځه دې بربنده نه وځي، مونږ د مختلطې تعلیم او تربیې شدیداً مخالف یو، ټول اسلامي حقوق باید مراعات شي ولې د دې اسلامي حدودو په چوکاټ کې باید ښځو ته دین ورسوو، زمونږ ټول علماء باید په دې مسئله فکر وکړي چې څنګه کولای شي

دا ښځې له دین نه خبری کړو ، څنګه کولای شو چې موږ په راتلونکې کې جاهلې ټاټوه له دین نه بې‌خبری په شرك کې اخته ښځې ونه لرو بلکه هغه په دین پوهې ، موحدې متقي ، له خدایه ویریدونکې ښځې ولرو څنګه کولای شو ؟ پدی رابطه زموږ علما ورونه ترټولو زیات مسئولیت لري او پکار ده چې هغوی په دی جهت کې دقیق فکر او کار وکړی زه په همدی اکتفا کوم او د خپل بحث بله مسئله پیل کوم .

ورونـو ! دا دی پـه یوه میاشت کې تقریباً (۱۷) ولسوالی او علاقـه‌داری د مجاهدینو پلاس فتحه شوی (د برخوالو تکبیر) او په لسګونو پوستی ، غونډونه ، لوی لـوی جنګي مراکز یـا دسمنانو پری ایښی او مجبـور شوی چـی هغه تخلیـه کـړی او یا د مجاهدینو د جنګ پـه وسیله فتحه شوی ، دا سلسله پـه شدت سره روانه ده هره ورځ د لویولویو فتوحاتو راپورونه راځی .

اوس د کندهار ټولی ولسوالی فتحه دی او د مجاهدینو په لاس کی دی .

د ننګرهار تقریباً زیاتره ولسوالی او علاقه‌داری د مجاهدینو پـه لاس کی دی پـه پکتیا کی حالت داسی روان دې چـی انشاءالله یواځې‌ګردیز او خوست بـه پاتې کیږی او نور به د ټول ولایت سیمی آزادیږی ، ځاځی آزاد شو ، ځاځی میدان آزاد شو ، او پدی منطقو کی د دښمن ټول وسایل هم مجاهدینو په غنیمت نیولی دی. پنځه څلویښت موټری اته (۸) ټانکونه او زره پوښونه دوه اوبوس توپونه او شل کا ماشینداری ټول وسایل او ذخایر او روغنیات او غذائی مواد چې دوی هلته درلودل دا ټول ئې مجاهـدینو ته روغ رمټ پری ایښی دی او دوی فقط له یوه یوه کلاشینکوف سره وتلی دی .

دوه هلیکوپټری هم رانسکوری شوی او په هغه ځای کی پرتی دی ، ځاځی اوس ټول د مجاهدینو په لاس کی دی ، خمکنی ټول د مجاهدینو په لاس کی دی په سمت شمال کی الحمدلله دشت قلعه ولسوالی آزاده شوی ، په لنډو شپو او ورځو کی بـه ینګی قلعه او شهر بزرګ هم آزادیږی موږ منتظر یو چې د دی فتحی خبر هم ډیر ژر را او رسیږی ، اندراب ولسوالی د مجاهدینو پـه لاس آزاده شوی ، د بغلان نیمائی ښار د مجاهدینو پـه لاس کی دی او په نیمائی نور هم تر نهو بجو پوری مجاهدین حکومت کوی ، دا به روښ په خپله پریږدی زه پـه دی متیقن یم چی انشاءالله د روسی پوځونو له وتلو نه به بعد د نجیب حکومت په ډیره آسانی سره نسکوریږي هغه د مجاهدینو پـه وړاندی د مقاومت توان نلری ، هغه به اوس د افغانستان له خپل ټول جنګي مراکز او قوتونه ښارونو ته را جمع کوی ترڅو د لویو لویو ښارونو دفاع وکړی .

ولی چه یوځـل د مجاهـدینو د تلو راتلـو تسهیلات هم برابـر شی او پوستی او مرکزونه هم ختم شی . او هغوی لدی نـه هم فارغ شی او هغوی خپـل ټول قوتونـه یوځـای لویـو لویـو ښارونو تـه متوجـه کړی ، دا ډیـره ګرانـه ده چی نجیب دی هلته مقاومت وکـړی .

له ما سره څه نور مسایل هم وو خو پدی خاطر چی اوس د لمانځه وخت دی په همدی اکتفا کوم په مختصر ډول داعرض کوم چی مونږ د مؤقت حکومت په هکله څه مزید مؤثر او مثبت قدمونه او چت کړی اوس غواړو چی د هری ولسوالی او علاقه‌داری په سطحه محلی شوراگانی جوړی کړو بیا دغه محلی شوراگانی یو یوکس مرکزی منتخبی شوری ته را ولیږی او همدا راز ولسوال او علاقه‌دار د منطقی وټاکی او د یوه ولایت لپاره والی وټاکی د والیانو ولسوالانو او علاقه‌دارانو تعینول او د ټولو ولسوالیو او علاقه‌داریو د آزادو منطقو لپاره اداری تنظیم جوړول په دی باندی مونږه اوس لگیا یو متأسفانه چی څه تنظیمونو څه منفی رویه اختیارکړه .

زما امید دا دی چی هغوی په خپله دی منفی رویه کی تجدید نظر وکړی او د دی محلی شوراگانو په جوړولو کی هغوی موانع را پیدا نکړی ، خنډونه را ایجاد نکړی ، او مرسته وکړی ، اخلاص او صداقت ښکاره کړی ترڅو مونږ وکولای شو ډیر ژر د هری ولسوالی او علاقه‌داری لپاره بیله بیله اداره ولرو ، کوم چی علاقه‌دار او ولسوال هم وټاکی او پدی ترتیب په آینده کی د برخوردونو امکانات د تل لپاره ختم شی او د مجاهدینو ترمینځ په هیڅ ځای کی کش مکش پیدا نشی ، مونږ یوه داسی واحده اداره چی د ټول ملت او د اتحاد او د مجاهدینو نمایندگی کوی دهری ولسوالی او علاقه‌داری او ولایت په سطحه ولرو ، متأسفانه څه تنظیمونه پدی کی خنډونه او موانع را پیدا کوی . زما امید دی دا موانع لری او د مؤقت حکومت د پرمختگ ، پراختیا او استحکام پروگرامو ته پرمخ ولاړ شی .

واخر دعوانا ان الحمدلله رب‌العالمین .

صنف درسی یی درجلریزمیدان ، استادواثق ازشاگردان امتحان میگیرد .

(اعزامی)

تبصره

بحران اوضاع اطراف افغانستان

بحران اوضاع اطراف افغانستان !!

شکی نیست که بخش عمده‌ای فعالیت های سوسیال امپریالیسم روس در افغانستان ، اشاعه اکاذیب و تقلیب اخبار تشکیل میدهد که می شود از آن به عنوان "امپریالیسم خبری" تعبیر کرد. این بعد فعالیت دشمن که اغلب غرض ورانه جلوه دادن حقایق و اغوای ذهنیت عامه صورت میگیرد، مهمترین و درعین حال خطرناک ترین بخش اهداف استکباری حکام روسی را تشکیل میدهد.

درجمله آنهمه دروغبافی های دشمن درجریان ده سال جنگ تحمیلی و ویران گر یکی هم استعمال واژه (اوضاع افغانستان!) است ، این واژه با آن همه سخریه و خنده‌ای که برای هرشنونده و خواننده دربردارد ،

درطول ده سال جهاد مسلحانه از زبان زمامداران کرملین و عمال دست نشانده آنها درکابل و به تبعیت از آنها از حنجره بوق های تبلیغاتی ماسکو ، تاشکند و کابل بطور هماهنگ شنیده می شود. شاید روسها و عوامل آنها در راستای فعالیت های گمراه کننده تبلیغاتی شان استعمال واژهٔ فوق الذکر را از این جهت : صلح دانسته‌اند که می توانند به این وسیله بجهانیان اطمینان بدهند که صلح و امنیت در تمام نقاط افغانستان حکمفرما میباشد و اگر احیاناً" کدام بحران و ناآرامی ای هم وجود دارد ، درداخل مرزهای افغانستان نه بلکه درخارج ازمرزها درخاک کشور های همجوار بوقوع می پیوندد!!

هرچند جنایت ، تجاوز ، کشتار ، ویرانگری وحشت ، دروغ و شانتاژ روسها در افغانستان [illegible]" اظهر من الشمس [illegible]" و هر انسان صاحب اندک عقل و بصیرت به هرزگی و بیمایگی گفته های آنها پی برده اند ، ولی منظور از عنوان کردن (اوضاع اطراف افغانستان!) درین مقال آنست تا از یکسو ذهن یکعده افراد و عناصریکه بعلت معاذیری هنوز درمراکز کشوری و لشکری رژیم درخدمت

دشمن قرار دارند، تنویر گردند و بیشتر
از این در خیانت به دین و ناموس و وطن
خود شریک جرم روسها و عوامل آنها
نگردند، بلکه در آخرین روزها یکه
دشمن با یکعالم ذلت و سرافگندگی خاک
افغانستان را ترک می گویند، بخود آمده
برای بقای بی بنیاد رژیم پوشالی
نجیب بیمورد خود را به زحمت و تکلیف
نیندازند و به یقین بدانند که آنچه را
دوصد هزار عسکر مسلح روسی طی هشت سال
جنگ در افغانستان بدست آورده نتوانست
نجیب و باند وطنفروش و خائن او هرگز هم
موفق بحصول آن نخواهد شد و همزمان
با ختم خروج روسها رژیم دست نشانده و
نکبتبار نجیب نیز به زباله دانی تاریخ
پرت خواهد شد.

منظور دیگر از تذکر (اوضاع افغانستان)
اینست که برای جهانیان، خصوصاً آنهای
که چندان در جریان درست حوادث
و رویدادهای جهاد اسلامی قرار ندارند
و منبع معلومات شان در مورد جهاد
افغانستان رسانه های گروهی روسیه و یا
رسانه های خبری مغرض و یا تجارتی جهان
غرب است، روشن گردد که اشاعه واژه
مضحک (بحران اوضاع اطراف افغانستان)
نه تنها مطلبی را افاده نمیکند بلکه
دروغ شاخداریست که فقط زبان کرملین
نشینان و مزدوران آنها جرئت اظهار
آنرا دارند و البته بکار گرفتن این
ترم بعنوان لکه ننگ بر جبین امپریالیسم
خبری روسها برای همیشه حک خواهد شد.

اگر بحران و درگیری در اطراف افغا-
نستان است و در داخل افغانستان امن و
آرامش حاکم است، دوصد هزار ارتش
اشغالگر سرخ بکدام منظور داخل
افغانستان گردیدند؟! اگر بحران در
اطراف افغانستان است، پس چرا رژیم
ملحد کابل نتوانسته است در بیشتر از
پنجاه حوزهٔ انتخاباتی پروگرام
انتخابات را پیاده کند؟! اگر بحران
در اطراف افغانستان است چرا قراضه
هزارها تانک و طیاره و هلیکوپتر و سائر
وسایط دشمن در دشت ها و دره های داخل
افغانستان افتاده است؟!

اگر بحران در اطراف افغانستان است،
چرا روسها بزبان خویش رسماً اظهار کردند
که به تعداد پانزده هزار سرباز و افسر
روسی در افغانستان کشته و مفقود و اسیر
گردیده اند؟! (حالانکه رقم صحیح پنج
برابر آنست).

از آقای نجیب می پرسیم اگر بحران در
اطراف افغانستان است، کدامین تیر
غیبی ای است که هر صبح و شام شهر کابل
را نشانه میرود و حتی جناب خودت هر روز
در لای اتاق زیر زمینی ات بکار مشغول هستی؟!
و نیز از وی می پرسیم که اگر بحران در
اطراف افغانستان است پس چرا خلقی ها و
پرچمی ها درج صد اراضی افغانستان
گشت و گزار نمیتوانند و حتی برای عبور
و مرور از شاهراه ها و فضای باز افغانستان
دچار مشکل اند؟! اگر بحران در اطراف
افغانستان است، کدام نیروی است که
هر روز میدان های هوائی خواجه رواش،
بگرام و قطعات عسکری اطراف شهر کابل

وسا ئرقطعا ت را به لرزه درآ ورده وقسمت های زیا د آ نها را به مخروبه تبدیل کرده است ؟! ورویهمرفته اگر بحران درا طرا ف ا فغا نستا ن است چه چیزی با عث شده که نجیب ا زدوسال به اینسو با اتخاذ پالیسی آ شتی ملی دست دوستی والفت بسوی مخا لفین دراز کرده ومیخواهد از مسلمانان افراطی وکمونیست ها دولت ائتلافی بسازد ؟! آیا درقاموس کمونیزم اسلام ما یه ارتجاع وعقب ما نی وبا لاخره افیون ملت ها قلمداد نشده بود؟

پرسش های فوق همه حقا یق وواقعیت های عینی اندکه هرا فغا نی وحتی فرد فرد جها ن برآ ن ها وا قف است ،هرگاه آقای نجیب ا زحا لت سا بقه اش بدرآ مده وسرعقل آ مده با شد، بعدا زپا سخ به سوا لات با لامیدا ند، بحرا ن درا طراف است ویا درداخل افغا نستا ن ؟

گربه چوف زما مدا رآ زا دیخوا ه ومبتکر روسیه! با وجودآ نکه ا زتشنج اوضاع اطرا ف ا فغا نستا ن اطمینا ن حا صل نکرده است مگربا آ نهم با بها نه قرا ردادن امضای معا هده ژنو، دیگرنسبت به بحرا ن اوضاع اطراف ا فغا نستان بیعلاقه گردیده آ غا زبخروج نیروها یش ا زخاک افغا نستا ن کرد، زیرا او ملتفت گردید که تشنج اوضاع درا طراف افغا نستان (جنگ ایران وعراق وا ختلافات دیرینه هندووپا کستا ن درسرحدات دوکشورومعضله کشمیر) ضرورت به لشکرکشی وجنگ فرسا یشی هشت سا له ارتش سرخ درداخل افغا نستا ن راندا رد.زیرا میدا ن جنگ ایرا ن وعراق بهزا رها میل ا زمرز افغا نستا ن دوروا قع است ، سرحدات متشنج هندوپا کستا ن ونیزکشمیر به هزا رها فرسخ ا زسرحدا فغا نستا ن فا صله دا رد، گربه چوف به خودا ندیشیدکه چرا بیهوده با تحمل خسا را ت هنگفت جانی وما لی ، قوت ا رتش سرخ را بنا م تأ مین نظم وآ را مش درا طرا ف ا فغا نستا ن ،در دا خل افغا نستا ن به تحلیل بدهد،این سنجش وا بتکا روقتی ا زجانب روسها احسا س شدکه کرملین ا زرهبربه اصطلاح جوا ن وتا زه نفسی برخوردا رگردیدوا وبا رویدست گرفتن یکسری تحولات دیموکراتیک درداخل روسیه ، دربخش سیا ست خا رجی پای روسیه راا زلجن زا رکشنده ومهلک ا فغا نستا ن نیزبیرون آ ورد.

گربا چوف به تما م مردم روسیه ورهبرا ن خلف خود این حقیقت را حا لی کردکه منبعد نبا یدبخا طرا طفا ی بحرا ن اوضاع اطراف ا فغا نستا ن ویا تشنج اطراف هرکشوردیگری، بدا خل آ ن کشور ها لشکرکشی صورت بگیرد، اوبه ملتش استدلال کرددرقضیه ا فغا نستا ن ،روسها با کشته دا دن پنجا ه هزا ر ا رتش سرخ و خسا را ت ملیا ردها روبل وا زدست دا دن پرستیژبین المللی ما سکو،نتوانست بحرا ن اطراف افغانستا ن را خا موش کند ،بلکه جنگ ایرا ن وعراق با همان شدت قبلی ا ش ادا مه دا رد، بگو مگوی هندوپا کستا ن درسرحدا ت مملکتین بحال خودبا قیست ، معضله کشمیرهمچنا ن لاینحل با قیما نده است !! معهذا

ذهنیت عامه روسیه را آماده کردکه اگر معاهده ژنو امضا شود ویا نشود با بدقوای روسی ازافغانستان خارج گردد!

الانکه روسیه باتمام قوا وقدرتش نتوانست بحران اوضاع اطراف افغانستان را بحالت عادی برگرداند وبالاخره ازآن منصرف شده باسرافگندگی عساکرش را از افغانستان فراخواند، دیده شودکه نجیب ورفقای کمونیستش که تا اینحال از عقب پنجره های هلیکوپترها وروشندان های تانکهای روسی به بیرون نگاه می کردند، برای خاموش ساختن تشنج اوضاع اطراف افغانستان چه کاری ازپیش خواهند برد!؟

بهرصورت از لابلای آنچه گفته آمدیم، این حقیقت برملا گردیدکه در اطراف افغانستان نه بحرانی وجود دارد ونه تشنجی احساس می شود واگر بحرانی هم درسرحدات ایران وعراق ویا سرحدات هندوپاکستان وجود دارد، به نسبت بودن فاصله نمیشود آنرا اطراف افغانستان نامید؛ بلکه بحران با اشغال افغانستان توسط روسها در داخل افغانستان بوجود آمده است ؛ یک طرف بحران روسها وطرف دیگر مجاهدین مسلمان افغانستان اند که همزمان با بوجود آمدن رژیم کمونیست تره کی وورود عساکر روسی درافغانستان وحتی قبل ازآن درزمان سلطنت روس نواز ظاهر، داود ایجاد گردیده است.

کلمه حل این بحران وابتکار عمل درخاتمه آن طی ده سال بدست مجاهدین مسلمان بوده است. مجاهدین با حماسه آفرین ها وفداکاری های بی نظیرشان درین مدت بساط این بحران را برخواهند چید.

چنانچه انسحاب عساکر روسی از بین کشورواعلان آشتی ملی نجیب خودگواه این مدعا است؛ ولی حقیقت امر اینست که بحران افغانستان (بزعم روسها بحران اطراف افغانستان) حل نمیگردد تاآنکه عساکر روسی بطورکامل افغانستان را ترک بگویند، رژیم کمونیست نجیب سقوط نماید وبالاخره حکومت عدل وقسط اسلامی برویرانه های آن اقامه گردد.

دپکتیا ددری تنو
قهرمانانو
یادگاری تصویر، چی
تول دشهادت لوړمقام
ته رسیدلی دی.

ژباړن «لټون» (له تکبیر نه)

ډاکتر هنري کیسنجر وپیژنئ !!!

....

د سولې دعوې‌دار مگر پوخ یهودي او د اسرائیلو د سرپرست په اول کې .

د فروري د میاشتې په لومړیو کې هنري کیسنجر یهودي لیډرانو ته په یوه پټ ځای کې په اسرائیلو کې د موجوده گړبړ او د هغې د مخنیوي په باب په تفصیل سره وینا وکړه د دغو مسایلو په باب چې هغه په کوم جذباتي ډول وینا وکړه له هغې ښکاري چې د کیسنجر په سیاست کې له ریا او ښودنې پرته د ترحم او عاطفې هیڅ نه شته او په حقیقت کې هغه له پاخه یهودي او د اسرائیلو زبردست حامي او تائیدوونکي پرته بل هیڅ نه دی ، په اتفاق ډول د هغه وینا یوه برخه بهرته راوتلې ده چې «امپیکټ انټرنشنل» هغه د دولسم مئي په خپرونه کې نشر تـه سپارلې ده ، چا چې دغه معلومات ترسوړه را رسولي دي د هغوی لیک په لاندې ډول دی .

ښاغلیو دوستانو ! څو ورځې د مخه مې د ډاکتر کیسنجر د عصراني په یوه غونډه کې گډون وکړ ، چې د اسرائیلو د اوسنیو پیچلیو سیاسي حالاتو او پرهغې د غورکولو لپاره رابلل شوی وه د خصوصي وینا لپاره کیسنجر ته بلنه ورکړای شوې وه ، د کیسنجر وینا د سیاسي ، تحقیقي او علمي اعتبار له امله له امریکایي یهودي لیډرانو سره سره د اسرائیلو د حکومت لپاره هم د فکر او سوچ وړوه ، د هغه وینا اساسي خبرې په لاندې ډول وې :

۱- اوس د دې خبرې اړتیا ده چې تمام یهودي مشران پر یوه هدف سره را ټول وې، د یو بل له بدنامولو یا پر یو بل له تهمت ویلو ډډه وکړي ، د گردو هدف او نظر یو کول غواړي . ځکه چې د ټولو هم یو مرام دی ، پـه ځانگړې توگه د فلسطینیانـو د تش په نامه ملاتړ او یا د هغوی د مسائلو پـه باب له شعله لرونکیو تقریرونـو ځان وساتي ، د دې پرځای چې نورې نړۍ ته د یهودي لیډرانو په وسیله خبرونه ورسي

له هغوی سره دی مکمله پریکړه وکړای شي .

د یهودي مشرانو خو دا فرض دی چې هغوی د اسرائیلو د عظیم هیواد په رامنځته کولو کې د فلسطینیانو د ګټو پوره پوره مخالفت وکړي .

۲- اسرائیلو ته پکار دی هغه وسیلې چې بهرته خبرونه لیږلای شي لکه اخباري نماینده ګان ، تلویزوني اداري او نورو باندې باید بندیز ولګوي او پخپل هیواد کې يې پرې نږدي ، کوښښ دې وکړای شي له اسرائیلو د باندې هم دغسې خبرونه چاپ نه شي چې د اسرائیلو پرحکومت د انتقاد زمینه برابره کړي په هیواد کې د ننه د سرغړاوی ، بغاوت او نافرماني مظاهري دي په سختي او پوره طاقت سره له پښو وغورځولای شي ، په دې لړکې نرمي کول ، اخلاق قدرونه مراعت کول او یا اجازه ورکول سخت ضرر رسوونکی دی او په ګرده نړۍ کې د اسرائیلو د بدنامي لامل کیږي .

۳- تصویب کړای شوی امن کانفرانس چې د باندنیو چارو وزیر «پریز» يې هم ډیره یادونه او ملاتړ کوي ، هیواد نور هم د تباهي په لوري بیايي ، دغه ډول کانفرانس دی کله هم نه کیږي ، او که چیري منعقد هم شي نو اسرائیلي حکومت ، سیاسي مشران او مخلص یهودیان دی يې په پوره توان سره مخالفت وکړي .

دا خو د هغه د تقریر مهم ټکي وو ، اوس به زه د هغه فرمایشاتو نوره هم رڼا واچوم . هغه د خپل تقریر په پیل کې وویل چې هغه د امریکا او د نړۍ د خلکو په وړاندې د یوه منصف او آزاد ذهنیت لرونکي لیډر په حیث پاتې کیدل غواړي چې په پوره ناپیلیتوب سره د نړیوال امن غوښتونکي او انصاف خوښوونکي وي ، خو هغه وویل چې له دې نه دا نه دې ګڼل پکار چې د اسرائیلو په ساتنه د هغوی د ګټو یا له هغوی سره همدردي او طرفداري کې کله هم بې پروایي کولای شم .

اسرائیل زما لپاره تر هر څه مهم دی لکه چې زه څنګه د خپلې کورنۍ عامه وژنه هیرولای شم ؟

د خپل ګران دوست پخواني سفیر آرګوف په یادولو سره هغه وویل ما چې دوه کاله د مخه په حداسه روغتون کې له هغه سره لیدلې وو ترڼنه مې هیرنه کړای شو . د هغه اوسنۍ معذورتیا او د صحت خرابوالی د همدغه تشدد ، ظلم او تیری نتیجه ده چې په منځنی ختیځ کې اوس هم جریان لري ، له روغتون نه د راوتو پروخت مې حس کړه چې زه د اردن سیند پرغاړه یم چیری چې د «جریکو» ښار د دوه ساعتو په واټن کې و ، ماته هلته د اسرائیلو د حکومت هغه وارخطايي احساس شوه د کوم له امله چې اسرائیلي حکومت هره ورځ د فلسطینیانو د باغیتوب ، تیري او بدامنۍ ښکار کیږي . نیسول شوی سیمې تر واک لاندې ساتل د اسرائیلو لپاره ورځ په ورځ ګرانیږي ، خو هم هغه په آسانۍ سره خوشي کولای هم نه شي او نه يې پریښودل پکار دي ، څو هفتې د مخه حالاتو د رڼا اچولو په ترځ کې کیسنجر وویل چې د اسرائیلو له عوامو سره اړیکي ډیري خرابي او

غیر یقیني دی ، زما په خیال له اسرائیلو دوه رسوا کوونکی غلطی شویدی ، یوه دا چی حکومت باندنی خبریالان د راډیو او تلویزیون نمایندګان د هیواد د ننه پری ایښی دی، پرهغوی ئی مکمل بندیزنه دی لګولی حال دا چی لازمه وه چی په ملاسی ډول پری بندیز لګول شوی وای ، دویم دا چی حکومت اعلان وکړ چی اغتشاش کوونکیو او شرخو ښوونکیو ته به سخته سزا ورکول کیږی ، خو هغوی به پرګولیو نه ویشتل کیږی ، امکان لری چی د اسرائیلو حکومت د انسانیت له مخی دغه ډول بیان ښه ګڼلی وی ، خو هغوی دغه حقیقت په نظر کی نه ونیولی چی کله هغوی چا ته مکمله سزاوارکولای شی او د دغی سزا اعلان هم کوی ،

نو د دی مطلب دا کیدای شی چی هغوی ستاسی په مکمل کنترول کی دی ، بیانو تاسی دا څنګه ویلای شی چی موږ د خپل ځان دفاع کوو ، دفاع د هغو ځواکونو پر خلاف کیدای شی چی ستاسی په واك کی نه وی ، کیسنجر پردی خبره ځوځلی زور وکړ چی په یوه حالت کی هم بغاوت ، سرغړاوی او خپلسری زغمل نه دی پکار ، باید په مکمل ډول یی مخه ونیول شی ، او مجرمانو ته یی عبرتناکه سزا ورکول پکار دی ، کوم څوك یی چی د روسی او فرانسیسی انقلابونو سیال ګڼی د احمقانو په جنت کی اوسی، دا وخت ترټولو مهمه خبره بغاوت او سرغړاوی له منځه وړل پکار دی ، د دغسی حالاتو له مخی کیسنجر ټول یهودی مشران خپل منځی اختلافاتو هیرولو ته راوبلل او واضحه یی کړه چی یهودیت په مشکله خطره کی دی ویی ویل چی ستاسی ټولو فرض دی چی یواځی او یواځی د اسرائیلو د بقا او سالمیت له پاره کار وکړی ، خپلو دښمنانو ته دا موقع ورنکړی چی د یهودی لیډرانو له تقریرو او وینا و نه پر فلسطینیانو ظلم په ثابت کړی .

تردی وروسته کیسنجر د باندنیو چارو د وزیر په خوښه د امن کانفرانس یادونه وکړه ویی ویل که څه هم د دغه تجویز له ځینی نکتو سره ځما اتفاق دی خو داسی راته ښکاری چی په اخر کی به دغه کانفرانس د اسرائیلو پرخلاف وی. کانفرانس او د هغی جوړول نه یواځی دا چی منفی دی لا چی یو طفلانه کار دی ، د اسرائیلو موجوده حکومت د داسی سیاسی تګلاری د غوره کولو ورنه دی چی د دغه امن کالفرانس له قراردادونو او اغیزو سره همآهنګی ولری ـ که د «سکی» پر دویم مخ نظر واچول شی ، نو اوس په عربی نړی کی یو هم داسی لیډر نشته چی له اسرائیلو سره د دایمی دوستی صلاحیت ولری او یا یکی د عربو د یوځای او یو آواز کولو قابلیت وی .

اسرائیل دی تل دا خبره په یاد ولری چی امریکا د دی خبری خلاف نه ده چی اسرائیلو چی په ۱۹۶۷ م کال کی کومی سیمی لاندی کړی هغه بیرته آزادی نکړای شی د (په غیر او یا د امکان په صورت کی له بیت المقدس نه) زما په فکر حکومت تراوسه د را جرز پلان تر لاس لاندی لری ، کیسنجر د امریکا د باندنیو چارو مرستیال وزیر

«مرق» سره د خپلو خبرواترو یادونه هم وکړه ، هغه وویل چي ما دا خبره نوټ کړېده چي هیڅوک هم د امن کانفرانس او د هغې اغیزو ته پاملرنه نه کوي ، هغه وویل که

چېرې امریکا او اسرائیل د دغه کانفرانس لپاره خپله پالیسي وضع نکړي ، دغه کانفرانس د تباهي په لو تلای شي ، د اهم د کمعقلي خبره ده چي موږ د اوګنو چي ګوندي پنځه لوی ځواکونه په دغه کانفرانس کي ګډون کوي او هغوی به لور د اسرائیلو پرخلاف له څه ویلو منع کړای شي ، له خبرواترو وروسته کومیټي جوړیږي او د دغو کومیټو د سرپرستي لپاره لوړی کومیټي رامنځته کیږي چي د دواړو خو او د معاملاتو اندازه لګوي او د کومي سملاسي فیصلي امکان به نه وي او تردې ټولو وروسته به آیا د دې امکان وي چي شاه حسین به که د خپلي کومي سیمي پریښوولو ته تیار شي ؟ پر کومه چي اوس اسرائیل په زور واکوال دی .

د مستر پریز د فارمول مطابق اسرائیلو ته به دا حق حاصل وي چي څوك به د مقبوضه سیمو خبره نه کوي ، خو داسي هیڅکله هم نشي کېدای او په نتیجه کي به بې اسرائیل له کانفرانس نه ووځي ، کیسنجر وویل چي زه دا ګنم چي له اسرائیلو پرته بل داسي یو هیواد چي هغه په دې کانفرانس کي ګډون ولري او هغه به د «۱۹۶۷» د نیول شو یو سیمو د پرېښوولو مخالف وي ، او دا یقیني خبره ده که چېرې اسرائیلو دغه سیمي آزادي کړي خپل وجود برقرار نشي ساتلای .

کیسنجر وویل چي له یوه هیواد سره هم د امن معاهده د مسائلو حل نشي کېدای د مثال په ډول یې وویل ایران او عراق هم یو بل آزاد مملکتونه ګڼي خو څنګه یو تربله سره په هیبتناك او بې معنی جنګ اخته دي او نه هم د یوه بل د موجودیت پر منلو هند او پاکستان له خپل منځي شخړو نه بند کړای شول .

کیسنجر د چین او روس په باب د خپلو خیالاتو د ښکارولو په ترڅ کي وویل چي چینایان د عربو ملاتړ کوي خو دومره اغیزمن نه دی ، د روسانو له عربو ملاتړ هم پر اسرائیلو د یوی اغیزمني حملي تصور رامنځته کولای نشي ، د شام په باب خو دا خبره منل شوېده چي هغوی د فلسطینیانو ملاتړ کوي اوکوی به یې ، چي یو سبب یې دا هم دی چي د جولان قضیه دی ژوندۍ وي او دغه سیمه هر کله چي وي شام ته دی ورکړای شي ، په دې لړکي ځما نظر دا دی چي د جولان سیمه چي د خو را زیات پوځي اهمیت لرونکې سیمه ده اسرائیل دی هغه هیڅکله هم خوشي نکړي .

هغه له روسي سفیر سره په دې لړکي د خپلو خبرو اترو یادونه هم وکړه هغه وویل چي له روسي سفیر سره مي له اسرائیلو سره په دوه اړخیز اړیکو پرته د هغو ګردو هیوادونو له روس سره پر اړیکو هم خبرې وکړې چي په دغه امن کانفرانس کي د ګډون لپاره را بلل کیږي ، روسي سفیر واضحه کړه چي په یقیني توګه بیت المقدس د بین المللي حیثیت لرونکې لوی مذهبي ښار دی ، د کیسنجر په وینا روسي سفیر اسرائیل هم د یوه

آزاد خپلواک او د بین‌المللي سرحداتو لرونکی هیواد ومانه او دایي هم ومنله چې د هغوی

د بین‌المللي بریدونو ضمانت باید ورکړای شي .

پېرته د خپلې لومړنی خبرې په تکرارولو سره کیسنجر په ډېر زور وویل چې بغاوت او سرغړاوی په سملاسي توګه د طاقت په وسیله تکول بې‌اندازې ضروري دي . او ورسره ورسره ټولې هغه وسیلې چې بهرته خبرونه لیږدوي له هیواد نه دې په سملاسي توګه وه ایستل شي .

